# ډاکتر کبير ستوری د خپلو ليکونو په هنداره کې

لايق زاده لايق

مونږ چې کله د پښتون قام د تاريخ په خورو ورو پاڼو نظر اچو نو دا خبره په هر قدم مخی ته راځي چې دا قام د حالاتو د لاسه هميشه زپلی شوی دی ، او د وخت استعماری قوتونو کله هم يو ځای کيدو ته نه دی پريخی ، هم ددغه قوتونود لاسه لا تر ننه د پښتون قامی وجود تاله واله پروت دی ، په يو کور کې د يو بل نه پردی پردی دی ، ځکه نو په اجتماعی توګه خپل تشخص نه لری ، هميشه د « پردو » د ګټی د پاره د « خپلو » سوداګانی کئ ، دی قوتونو د پښتون په اقتصاد هم پوره خيټه اچولی ده ، چې له امله ئې پښتون وګړی په خپل کور کې بې کوره ، په شته وسايئلو کې په خيټه نهر او په وجود بربنډ دی.

دا احساس چې چا هم لرلی دی نو د پښتون قامی وحدت د حصول دغی روئ هلی ځلی کړی دی ، په دغه حساسو او روښن فکرو مشرانو کې زمونږ د سياسی مبارزو سره سره زمونږ دقام قبيلی اتلان هم شامل دي ، چا چې د خپلو زپلو او ژوبل ژوبل فکرونو د اظهار د پاره کله د شعر او کله د نثر لمن نيولی ده ، د قلم دا خاوندان د هر چا نه لوی خلق دي ، ځکه چې دوی اولس ته شعور او پوهه ورکی ، د خپل منزل لار ورته په ګوته کئ ، زه ګمان کوم که چيری دا د قلم خاوندان نه وی نو نن به نه د « ميرويس نيکه» نامه اخستی کيده ، او نه به « لوی احمد شاه بابا» چا ته ياد وواو نه به نژدی دور کې به چا د « باچا خان » نوم پيژندلی وی.

د خپل فکر او خپل سوچ په دغه قامی مبارزو کې يوه ستره او معتبره نامه د ډاکتر کبير ستوري هم ده ، ستوری په يو وخت يو تکړه سياسی مبارز ؤ د يو قام پرست قلم څختن وو ، د هغه په ذهن کې د قامولۍ مينه دهاغه وخت نه په غورځنګ وه کله چې هغه د خپل کلی تنر ( کونړ ) په ښونځی کې سبق وئيلو ، د هغه په سينه کې خو جذبی ناقراره وئ او چې کله د افغانستان د دولت له خوا المان ته د سبق د پاره وليږلی شو نو د خپل سبق سره سره ئې د خپلی سياسی مبارزی ابتداء وکړه ، هغه د خپلو پښتنو ځلمو ټولګې راجوړ کړل ، او د اوده احساس د بيدارولو شعور هڅی ئې پيل کړی.

ډاکتر کبير ستوری چې د پښتون فکر د روښانه کولو د پاره د قلم ژبی ته څه وسپارل هغه هر څه اوس د ولس اجتماعی اثاثه ده ،

په کال ۱۹۷۲ کې ډاکتر کبير ستوري د « سکروټه » په نوم د وړمبی شعری ټولګې د چاپ عملی قدم پورته کړو ددغه دور په شعرونو کې ډاکتر کبير ستوري خپلو ځوانو جذبو له ځای ورکړؤاو د پښتون قام د خوشحالۍ د پاره ئې د جمهوری اقتدارو په پخلی زور راوړو ،

ددی نه پس په کال ۱۹۷۷ کې ډاکتر کبير ستوري د « پښتونخوا » په نوم د خپلو هاغه مضمونونو يوه مجموعه راجوړه کړه کوم چې هغوی په مختلفو وختونو کې ليکلی وه ، دغه رنګ ډاکتر کبير ستوري د يو ليکوال په حيث او پيژندی شو.

چونکی ډاکتر کبير ستوری د ساه پوهنې په رموزو پوهه وو او هم په دغه لاره کې ئې سپيشيلايزيشن کړی وو ځکه نو په کال ۱۹۸۵ کې ئې د « ويره » په نامه يوداسې کتاب وليکلو چې لاتر اوسه بل کوم پوهاند دی موضوع ته توجه نه ده کړی ، په دی کتاب کې ډاکتر کبير ستوري د هاغه انسانی رويو په تول پوره څيړنه وکړه ، د کومو په وجه چې د هغه په زړه او ذهن کې د « ويره » پيدا کيدلی دا کتاب دری ځله چاپ او خور شو ، ددی نه پس ډاکتر کبير ستوري د نفسياتو په موضوع نور کتابونه هم وليکل چې دی کې « د هوښيارتيا د بڼرو تله » د هوښيارتياتله ( ساپوهنه ) ، ژبساپوهنه ( ساه پوهنه ) او د هوښيارتيا کلتوری بې پلوه تله شامل دی.

په کال ۱۹۸۵ کې ډاکتر کبير ستوري د خپل شعری سفر د وړاندو بوتلو په ترڅ کې خپله باقاعده شعری ټولګه « ژوندی خيالونه چاپ ته ورسپارله، په دی ټولګه کې د رومانيت ، حماسيت سره د قوم پرستی ټول احساسات ځای کړی شوی دی ، د پښتو ادب يوه ډير لوئ او معتبر نوم ښاغلی اجمل خټک د ډاکتر کبير ستوري ددی کتاب په حقله وائی « زمونږ د مسافر ستوري دا کلام « ژوندی خيالونه » په پښتو ژبه د پښتنې وينې او مينې ، د پښتو د ننی او پرونې زخمونو او سبانې ارمانونو او پښتونولۍ د ژوند او مستقبل د پسرلی وږمې دی».

« ژوندی خيالونه » د ډاکتر کبير ستوري د هاغه جذبو ترجمانی کئ په کوم کې چې د قام پرستو مشرانو سره د سوچه مينی او په خصوصی توګه د باچا خان سره د عقيدت نيغ په نيغ اظهار شوی دی او چې کله کبير ستوری ددغی قامی مبارزو په هلو ځلو کې صداقت



اروا ښاد ډاکټر کبير ستوری

محسوس کړی دی نو د خپل اميد اظهار ته ئې داسی ژبه ورکړی ده:

ملي غـرور او حـس د پښتونوالـې ژونـدی شـوی<br>
غـوټــۍ د ارمـانونو غـوټۍ شـوی دی غـوړيږی

د خپل ليک په هنداره کې کبير ستوري کله هم د مايوسې خبره نه ده کړی هغه هميشه د اميد د پسرلو خبری کړی دی ، او هم دغه اظهار کبير ستوري ته په ادبی حلقو کې عظمت وربخلی دی.

په کال ۱۹۹۹ کې د ډاکتر کبير ستوري بله شعری مجموعه « د قلم توره » تر عنوان لاندی چاپ شوه ، دا ټولګه د ژوندی خيالونو او سکروټی تسلسل دی چې ورکې د خپلې خاوری ، خپل هيواد او د خپل قام سره د مينې ټولی جذبی موجود دي ، ډاکتر کبير ستوری دا عملاً ساېته کړيده چې د قلم زور ، د قلم قوت د توپ ټوپک نه زيات دی.

او هغه په دی اساس چې قلم ذهنونه او فکرونوه بدلوی ، په پښتنه منطقه کې چې نن کوم حالات په تيزی سره بدليږی کبير ستوری دا احساس په خپل ټولګه کې ډير کاله پخوا کړی دی

د آمـن لـه خاطـره دا ويـش نـور نـه پـاتـی کـيږی<br>
دا واړه پـښتـانـه پـه يـو مـرکـز بـانـدی ټـولـيږی

ډاکتر کبير ستوري...... د قام غم سره په دی ټولګه کې د زړه غم هم ژړلی دی او ځای په ځای ورکې د رومانيت رنګونه ښکاره او جوت ښکاری:

هر عـذاب د يـار خـدمـت کـې راحـت ښـکاری<br>
عــذاب نـشــتـه دی د مـيـنــې پـه کـتـاب کـې

د ډاکتر کبير ستوري يوه بله شعری ټولګه د « سندريز پيغام » په نوم په کال ۲۰۰۲ کې چاپ شويده ، د شعر په دغو يون کې د ستوري صيب بنيادی غرض او بنيادی مزاج د پښتون قام وحدت او يووالی دی ، ددی تر څنګه هغوی خپل ګنډواله وطن ساندی هم وئيلی دی ، او په خپل خاص انداز ئې د وطن ښايستونه هم ستايلی دي ، ددی باوجود چې ستوری صيب په المان کې يو فعال او د سکون ژوند تيرولو خو چې کومه مينه په انسانی فطرت او جيلت کې ګډه وی ، د هغې نه په يو حال انکار نشی کيدی ، ښاغلی کبير ستوری هم ددغی مينی اظهار د خپل ګران هيواد د ښايستونو سره په چار کړی دی « سندريز پيغام » د قوميت د جذبو سره د رومانيت اړخونه هم ډير جوت لری ښاغلی اباسين يوسفزی ددی ټولګی په اړوند ليکی..

ډاکتر ستوری د خپلی ژبې واسی پتنګ دی چې ددی د سرلوړئی او پرمختيا د پاره د هيڅ قربانۍ نه مخ نه اړوی ، ځان هم شته کول غواړی او قام هم ددی ښاغلی هره موضوع د قاموالۍ په رنګ کې رنګ ده ځکه مونږ دا په ډاډه وئيلی شو چې ستوری سوچه پښتون شاعر دی»

ددغه وينا په متاظر کې چې کله مونږ د ډاکتر کبير ستوري « د سندريز پيغام» جاج اخلو نو ورکې ګڼ ثبوتونه مخ ته راځی..

پاتې په لسم مخ کې